## د امریکا د متحدو ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداريUSAID  دسیمه‌ییزې ادارې او د ټولنې پراختیا پروژه

## USAID/LGCD Follow up project

د سیمه‌ییزې اداری او د ټولني د پراختیا پروژه د ۲۰۰۷ میلادي کال د دسمبر په میاشت کې پیل شوه او د  میلادي ۲۰۰۹کال د اګست تر میا شتې به دوام لري . د سیمه‌ییزې ادارې او دټولنې د پراختیا پروژه د امریکا د متحدو ایالتونود نړیوالې پرمختیایي اداری/USAID لخوا تمویلیږي. دغه پروژه دافغانستان د دولت سره د ادارې جوړونې او د ټولنې په وده او پرمختیا کې مرسته کوي تر څو د دولت سیمه‌یزې ادارې ددی جوګه شي چې خد متونه په اغیزمنه او سمه توګه ټولنې ته وړاندې کړي او په ولایاتو کې سوله او ثبات راولي.

د USAID / LGCDپروژه د افغانستان د دولت د عامه اداري د پیاوړي کید و په موخه پلې کیږي تر څو د ولایتونو او د ولسوالیو په کچه د دولت د سیمه‌ییزو ادارو وړتیا لوړه شي او خلکوته  د هغوی د اړتیاوو پوره کوونکي خدمتونه وړاندې کړای شي. دغه پروژه د کنړ ، لغمان ، ننګرهار ،نورستان،خوست،پکتیکا، پکتیا،غزنی،هلمند ، لوګر،زابل او ارزګان ولایتونو کې تطبیقیږي.

ددې پروژې بنسټیزه موخه د سیمه‌ییزو ادارو کارکوونکي د نوي مدیریت ، انګلیسې ژبې او معلوماتي تکنالوژۍ په مهارتونو سمبالول دي. دغه روزنیزې دورې د درې میاشتو لپاره دایریږي. تر دی مهاله د مدیریت پنځه دورې او مالوماتي تکنالوژۍ پنځه دورې دایرې شویدي. د هر ې دورې د ګډونوالو شمیر ۲۰ تنه وي چې د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون لخوا معرفی کیږي او د ولایتي ریاستونو  ملکي مامورین وي.

### ددغه پروژې سترې بنسټیزې موخې په لاندې ډول دي :

- د ولس د اړتیاوو پوره کوونکي خد متونه په اغیزمنه او ګټوره توګه د  وړاندې کولو په موخه د دولت دسیمی زو ادارو جوړول او ورسره مرسته کول
- د عامه ادارې د کړنو نه دڅارنې، پلان جوړونې او پریکړو نیونوکې د ولسي وګړو ونده زیاتول
- ولس ته د سیمه‌ییزو دولتي ادارو لخوا  د هغوی د کړنو په اړه حساب ورکونې او شفافیت ته وده ورکول
- د دولتي ادارو تر منځ د اړیکو ټینګول

### پورته ذکر شوو موخو ته د رسیدو په موخه لاندې فعالیتونه سرته رسول کیږي:

- تخنیکي مرسته
- د دولتي کارکوونکو روزل
- د وسایلو برابرول
- د  دولتي ادارو ترمیمول ،بیا رغول

## دسیمېزې اداري او د ټولني د پراختیا د پروژې ګډ لوري Stake holders:

د USAID /LGCD پروژه یوه روزنیزه او ګټوره پروژه ده او ډیر ګډ لوري یعني Stake holders لري . دغه پروژه د امریکا د متحدو ایالاتو د پرمختیایي اداریUSAID په مالي مرسته ، د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون ، دافغانستان د مدني ټولنې د مجتمع ACSF په ګډې همکارئ سره تطبیقیږي. د افغانستان مدني ټولني مجتمع ACSF د پکتیا او ننګرهار په ولایتونو کې ددغه پروژې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري چې د تطبیق چارې ېې د دغه دفتر دسیمېزو ځانګو لخوا پر مخ بیول کیږي. ددغه پروژې د تطبیق مسوولیت د زابل او ارزګان په ولایاتو کې د HDS د همکارې موسسې،په غزني او لوګر ولایتونو کې د BEST د همکارې موسسې، په پکتیکا او خوست ولایتونوکې د TLO د همکار ې موسسې ، په هلمند ولایت کې د HAFO د همکارې موسسې ، په کنړ ولایت ک ې د NPO/RRA د همکار ې موسسې ، په لغمان ولایت ک ې د AHTP د همکار ې موسسې ، په نورستان ولایت ک ې د BEFA دهمکارې موسسې په غاړه دی او د تطبیق چارې ېې په همدغه ولایتونو کې د ذکر شویو موسسو د سیم ېزو ځانګو لخوا پر مخ وړل کیږي.



**دسیمېزې اداري او د ټولني د پراختیا د پروژې په تطبیق کې د افغانستان د مدني ټولني د مجتمع ACSF ونده:**

## د همغږۍ منځته راوړل/Coordination:

په پکتیا او ننګرهار ولایتونو کې د پروژې د تطبیق پرته د افغانستان دمدنې ټولني مجتمع ACSF د پروژې پهتطبیق کې دDAI ، د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون او همکارو موسسو چې د پروژې تر پوښښ لاندې ولایاتو کې د پروژې د تطبیق چارې پر مخ وړي تر منځ د یو همغږي کوونکي ارګان په توګه فعالیت کوي. د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمعACSF د USAID/LGCD Follow upشعبه دهمکارو موسسو د ریسانو ، د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون او DAI د مسولینو تر منځ هرې ځلور میا شتې ورسته د همغږۍ د منځته راوړلو لپاره ناستې دایروي ،تر دی مهاله ددغه نوعیت ځلو ر ناستې دایرې شویدي په او ددغې پروژې په مخ کې پرتې ستونزې ورکې د بحث لاندې نیول شویدي. ددی سربیره په اونۍ کې یو ځل د ګرځنده ټیلفو ن له لارې د مربوطه ولایا تو سره اړیکې ټینګوي او ټریننګونو د جریان خبر اخلي. لاسته راغلي مالومات په لیکلې ډول د اړونده مراجعو سره شریکوي تر څو دغه روزنیز پروګرامونه په ښه توګه دایر شي او ستونزې د منځه ولاړې شي. په ولا یاتو کې د روزنیز بهیر په وړاندې دستونزو په صورت کې د DAI او

اداري اصلاحاتو د خپلواک کميسون سره ناستې هم دايريږي.د يادونې وړ ده چې دغه مالومات ، د ستونزو د حل په اړه شوې پريکړې او راپورونه د بريښنا ليک له طريقه اړونده دفترونو ته استول کيږي .



## تخنيکي مرسته/ Technical assistance:

د افغانستان دمدني ټولنې د مجتمع ACSF د USAID/LGCD Follow up شعبې کارکوونکو د مديريت، انګليسي او کمپيوټرد برخو پريزينټيشنونه ، لاربښودونه او روزنې د ميتودونو اړونده مواد په دری او پښتو ژبو کې تر تيب کړ ي ، په انګليسي ژبه يې ژباړلي او همکارو موسسو سره يې شريک کړيدي . د مدير يت برخه د مديريت او ادارې د اساساتو ، پلان جوړونې، مالي مديريت، پوهاوي او اړيکو، د شخړو د منځه وړلو مديريت، ره بری، د انساني سر چينو مديريت اوپروژې د مديريت په څپرکيو مشتمله ده. د مالوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د روزنيزو کورسونو ګډونوا لو ته د Ms Word, Excel, Power point ,Ms windows او انټرنيټ پروګرامونو روزنه ورکول کيږي. د انګليسي ژبې د روزنې په برخه کې د Active Book one او New Intercom one د کتابونو تدريس کيږي . د تخنيکي مرستې په لړ کې د USAID/LGCD Follow up د پروژې کارکوونکي د پروژې د پوښښ لاندې ولاياتو ته سفرونه کوي او د ټرينګ بهير د نږدې نه ګوري. دروزنيز بهير په اړه د ګډونوالو نظرونه اخيستل کيږي د هغوی مثبتې سپارښتنې په نظر کې نيول کيږي او ستونزو ته د حل لارو موندلو په اړه د مسوولو چارواکو سره غونډې نيول کيږي د سفر راپور ترتيبيږي او اړونده مراجعو ته استول کيږي. ددی سربيره د USAID/LGCD Follow up پروژې کارکوونکو د روزنيز بهير د ارزونې لپاردوه اونيز ، مياشتنی ، د منځنی دورې اود پيل او پای ازموينواو د روزونکو

دارزوني د میاشتنی ازمویني پوښتڼي د ځوابونو سره ترتیبوي او د پروژې تر پوښښ لاندې ولایاتو ته یې استوي. د تخنیکي مرستي برابرولو په لړ کې یو بل مهم کار د افغانستان د مدني ټولني د مجتمع او د همکارو موسسو د ما لوماتي ټکنالوژی ، انګلیسي او مدیریت د روزونکو لپاره د روزنیزو میتودونو په اړه د اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون د





ملکي خدمتونو د ځانګي اوDAI په مرسته د ورکشاپونو دایرول دي. د پروژې د پیل څخه تر اوسه د همکارو موسسو او د م دني ټولنې د مدیریت ، انګلیسي او مالوماتي ټکنالوژۍ د روزونکو د وړتیا د لوړیدا په مو خه د روزونکو د روزنې/TOT ، Refresherاو راپور لیکنې تر عنوانونو لاندې اته ورکشاپونه دایر شویدي تر څو روزونکي دد ې جوګه شي چې په ښه توګه د روزنیزو کورسونو ګډونوال وروزي.

## پوهاوې او اړیکې/ Communication :

د افغانستان دمدني ټولني د مجتمع ACSF مرکزي دفتر د پروژې په تطبیق کې د DAI اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون او همکارو موسسو چې د پروژې تر پوښښ لاندې ولایاتو کې د پروژې د تطبیق چارې پر مخ وړي تر منځ د یو همغږي کوونکي ارګان په توګه فعالیت کوي .دغه دفتر د DAI په همکارۍ سره د راپور ورکوني یو سیستم جوړ کړی. د ددغه سیستم له مخې د اوونیز، دوه اوونیز، میاشتنۍ ، دوه میاشتني او د روزنیزې دورې د بشپړیدا د راپور ونو نمونې ترتیب شوي او د همکارو موسسو د فترونو سره یې شریکې کړیدي. ددی سربیره دغه دفتر ذکر شوي راپورونه توحیدو ي، اصلاح کوي او د DAI دفتر ته یې استوي . د پروژې اړونده ستونزې د DAI دفتر او اداري اصلاحاتو د خپلواک کمیسون سره شریکوي او په اړه یې شوې پریکړې د همکارو موسسو سره شریکوي. د پوهاوي او اړیکو په لړ کې دپروژې د پیل څخه تر اوسه پورې ۳۰ اونیز، ۱۵ دوه اونیز، ۱۲ میاشتني ، څلور د روزنیزو دورو د بشپړیدو راپورونه توحید ، اصلاح ، تدوین او د DAI دفتر ته استول شویدي. ددی سربیره د روزونکو دروزنې د ورکشاپونو اته راپورونه ترتیب او د DAI دفتر ته استول شویدي. د پوهاوي او اړیکو په لړ کې د USAID/LGCD Follow up شعبې د میډیا د برخې مسوول د پروژې د پیل څخه تر اوسه د پروژې تر پوښښ لاندې بیلا بیلو ولایتونو ته لس سفرونه کړیدي ددغه سفرونو تفصیلي راپورونه د مدنې ټولني د مجتمع په مجله کې نشر شویدي. د دغه سفرونو پر مهال د روزنیزو

کورسونو د ګډونوالو سره مرکې شویدي چې د روزنیزو کورسونو د اغېزمنتیا، ګټورتوب او د ګډونوالو د خوښی ښکارندوی دي.

## لاسته راوړنې/Achievements :

د پروژې د پیل څخه تر اوسه د مدیریت پنځه دورې او مالوماتي ټکنالوژی او انګلیسي ژبې څلور دورې بشپړی شویدي .

هره روزنیزه درې میاشتې په بر کې نیسي او د هرې دوری د ګډونوالو شمیر یې ۲۰ شل تنه وي.

- د پیل څخه تر دی مهاله د ۹۶۰ اووه سوه شلو په شا وخوا ک ې ملکې مامورینو ته د مدیریت ، انګلیسي او مالوماتي ټکنالوژی په برخو کې روزنه ورکړ شویده چې ددوی له جملې ۳۷ ښځینه مامورینې هم روزل شویدي
- د روزونکو لپاره د روزنې د میتودونو او راپور لیکنې اته۸ ورکشاپونه دایر شویدي او ۱۰۲ روزنکو په کې ګډون کړیدی

## ددغه روزنیزې پروژې مثبتې پایلې/ IMPACT:

ددغه روزنیزې پروژې د پلې کیدو په نیتجه کې د پروژې ګټه اخیستونکي **Beneficiaries** چې دولتي ملکي کارکوونکي دي د ټریننګ په مهال د لاسته راوړل شوې مهارتونو د کلوولو پوسیله کولای شي خپلې رسمي چارې په سمه منظمه او طرح شوي پلان او مهال ویش سره سمې تر سره کړي او خلکو ته د دولت لازم او اساسي خد متونه په اغیزمنه او ګټوره توګه د وړاندې کولو جوګه شویدي . ددی سربیره دروزنیزو کورسونو فارغان په اسانی سره کولای شې اداري کارونه لکه د مکتوبونو لیکل او داسې نور د کمپیوټر له لارې سرته ورسوي او هم تر ډیره حده په انګلیسي ژبه خپل مشکل حل کړي. د روزنیزو کورسونو فارغانو ځینې ېې د دغو روزنیزو کورسونو د اغېزمنتیا او ګټورتوب په اړه داسې نظر لري:

**هر انسان باید پرمختګ وکړي:**

د پوهې تر لاسه کول په ښځه او نر یو برابر فرض ده. اوسمهال که څوک د هر څومره واک او ځواک خاوند وي خو د پوهې تر لاسه کول ورته یوه ستره اړتیا ده. مېرمن واحده د لغمان د ولایتي شورا غړې او دسیمیزې ادارې د ټولنیزې پر مختیا USAID/LGCD د روزنیز کورس د لومړی دورې فارغه ده او د هغو کسانو د جملې نه ده چې د پوهې په تر لاسه کولو پوره باور لري نوموړې، د خپل بریالیتوب کیسه داسې پیل کړه: زه د لغمان د ولایتي شورا غړې یم او هره ورځ د بیلا بیلو ادارو له چاروا کو او سیمیزو خلکو سره سرو کار لرم، مخکې به په خپل کار کې له ډیرو ستونزو سره مخ کیدم ، خو له کومه وخته چې مې د USAID/LGCD روزنیز کورس کې ګډون وکړ، نو ډیرې ستونزې مې له منځه ولاړې ،ځکه چې زه دلته پوه شوم چې رهبري او مدیریت څه ته وایي او یوه ستونزه باید څنګه حل شي او ددی تر څنګ

د انګلیسي ژبې سره هم اشنا شوم. زه او س ښه دغه مهارتونه په خپل ورځني ژوند کې کاروم. تر دې مخکې چې زه وکیله شم په یوه روغتون کې ماموره وم داچې ما په دغه روزنیزو پروګراونو کې ګډون وکړ نو اوس په خپل ځان باوري یم چې دا زما د زیار نتیجه ده. په دی لنډه موده کې مې ډیر څه زده کړل د هغې په اند یو انسان باید د علم حاصلولو لاره غوره کړي.

**راځۍ چې ددغه روزنیزو کورسونو په اړه د یو بل ګډونوال نظر یاتو ته یو ځغلنده‌نظر واچوو:**

په لغمان کې د سیمه ییزې ادارې د ټولنیز پرمختګ او د دولتي مامورینو د کاري وړتیا دلوړېدو په موخه د LGCD روزنیز کورسونه له لسو میاشتو راهیسې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون ، دافغانستان دمدني ټولنې مجتمع(ACSF)، اوDAI موسسو په ګډه مرسته د ښځوچارود ریاست په ودانۍ کې دوام لري چې د پرمخبیوني دنده یې د AHTP موسسې دسیمه ییزې څانګې پر غاړه ده. دې چې اغلې شیرجانه هم ددې روزنیز کورس د لومړنی دورې له ګډون کوونکو څخه ده. دیادونې وړده چې د USAID/LGCD یا د سیمه ییزې ادارې د ټولنیز پرمختګ پروژه دافغانستان په دولس ولایتونو ننګرهار، لغمان ، نورستان، کونړ ، لوګر، غزني ، زابل ، اروزګان ،هلمند ، خوست ، پکتیا او پکتیکا کې له لسو میاشتو راهیسې پیل شوې ده او هدف یې د روزنیزو کورسونو له لارې د دولتي مامورینو دکاري وړتیا لوړول دی . ټاکل شوې ده چې په اتلس میاشتو کې به ددې پروژې له لارې په هر ولایت کې دبېلا بېلو ریاستونو اتیا تنه مامورین د مدیریت ، کمپیوټر او انګلیسي ژبې په برخه کې وروزل شي .پنځه څلوېښت کلنه شېرین جانه له تېروڅوکلونو راهیسې دلغمان دښځو دچاروریاست دریسې په توګه دنده ترسره کوي . نوموړې له هغو شل تنو دولتي مامورینو څخه ده چې څلور میاشتي دمخه په لغمان کې د DAI/LGCD دروزنیزو کورسونو له لومړنی شپږمیاشتنی دورې څخه فارغه شوې ده . اغلې شېر ین جانه وایي : کله چې د دولتي مامورینو د کاري وړتیا د لوړېدا په موخه روزنیز کورسونه پیل شوه نو دې هم وغوښتل چې په کې ګډون وکړي اود مدیریت او ادارې په اصولو باندې ځان پوه کړي . نوموړې په دې اړه وویل : (( مخکې مې د ریا ست چارې سمې پر مخ نه شوې وړلی خوله کله راهیسې مې چې د مدیریت ، کمپیوټر او انګلیسي ژبې په برخو کې زده کړې تر سره کړې په خپلو کارونو کې له هېڅ ډول خنډ او ستونزو سره نه مخ کېږم ، ځکه چې او س دخپل ریاست دبودیجې پلان په خپله کوجوړولې او لوړپوړو چارواکو او مرستندوی‌موسسو ته وړاندې کولی شم . زما په نظر که یو مامور په سمه توګه دمدیریت زده کړه تر لاسه کړي نو په اداري کارونو کې به له هېڅ ډول ستونزې سره مخ نه شي .)) دځینو کارپوهانو په اند د دولتي مامورینو روزل یو ډېر ارزښتمن کار دی او په نن وخت کې هر مامور ورته ته اړتیا لري ، ځکه چې نن سبا د کمپیوټر زمانه ده او هر څه نوې بڼه غوره کړېده ، څومره چې د دولتي مامورینو کاري وړتیا لوړېږي نو هومره به د خلکو ستونزې ورسره حلېږي او دا زموږدهېواد د اداري پرمختګ

سبب کرځي. دا خبره تر ډېره سمه ده چې د دولتي ادارو پرمختګ ددې هېواد پرمختګ دی او دهر چا په خوله کې همدا خبره ده .



له څه مودې را په دې خوا په ټلییزو رسنیو کې هم دا خبره ډ ېره راپورته کېږي چې ، دولت او نړیواله ټولنه باید پرمرکز سربېره دسیمې‌ودولتي ادارو پرمختګ ته هم پام وکړي.که ریښتیا هم پردغې خبرې غور وکړو نو دکانې کرښه به ښکاره شي،ځکه ؛ موږ وینوچې که سیمه ییزې ستونزې هملته په سیمه کې هوارې نه شي نودا وېره شته چې داستونزې به یوه ورځ مرکزي دولت هم کمزوری کړي. اغلې شیرین جانه وایي چې دښځو دچارو ریاست یوه داسې اداره ده چې په لغمان کې یې تر نورو ریاستونو مسوولیت ډېر زیات دی ځکه‌چې دلته ښځې ببلا بېلو ستونزو سره مخ دي او د افغانستان اسلامي دولت او نړیواله ټولنه باید ډېره پملرنه ورته وکړي نوموړې زیاتوي همدا ښځه ده چې دټولنې نیمه برخه تشکیلوي او دماشومانو په روزلو کې ډېر ستر رول لري .په پای کې اغلې شیرین جانې له ټولو اړوندو او مرسته کووونکو موسسو نه مننه وکړه چې دې ته په خپل ریاست او کور کې د مدیریت ، کمپیوټر او انګلیسي ژبې د زده کړې زمینه برابره کړه .

**تر تیب کوونکې: د USAID/LGCD Follow Up Project شعبه**